تفسیر خان ۲۰۰۹/۰۲/۱۷م

# افغانستان- پښتون، تاجک، هزاره، ازبک نه
# بلکې ګله یانو پر ځنګل بدل کړئ

وایي چې د یوې سیمې باچا- زمری دپردیو د دسیسو ښکار او ووژل شو. دباچا دنشتوالي له کبله سیمه ناکراره او په ځنګله بدله شوه؛ هرچا چې هرڅه غوښتل هغه یې کول. دځنګله اوسېدونکي ناچاره او جرګو ومرکو ته یې مخه کړه. په دغه وخت کې یوه ډله شغالان کوم کلی ته دښکار لپاره ځي چې یو یې هلته دکوم رنګرېز د رنګ په خوم کې غورځېدو له کبله رنګینېږي. خوچې کله بېرته ځنګله ته راځي لا جرګه روانه وي. جرګه وال دهغه په لیدو حیرا نیږي خو داچې له یوې خوا یې ډېر وخت زمری نه وي لیدلای او له بلې خوا له نا امنی څخه په تنګ شوي وي نو سمدم پر هغه د زمری خیال کوي او دځنګله باچایي ورسپاري. شغال خلکو ته په تشو وعدو ورکولو څو کاله مېلي او چړچې کوي، او داچې شغال د باچا یې خصلت او استعداد نلري نو په خپلو کارونو کې ناکامه، او ورو ورو په ځنګله کې ډېر پرې بې باوره کېږي. خوسره له دې یې هم دهغه د رنګ او له شغالانو سره دښکاره اړیکو دنه ساتلو له کبله پرخپل ځای پرېږدي. وړاندې یوه ورځ شغالان کوم جشن لمانځي اود او-و-و ، او-و-و چیغې را پورته کوي، چې ښایي دا به دشغالانو تر منځ کوم رمز وي، دځنګله باچا د باچایي په نشه کې دغ ه د او-و-و، او- و- و چیغه له نورو شغالانوسره غبرګه وي او په دې توګه یې رښتینی هویت په ډاګه کېږي.

کیسه اوس دافغانستان دبهر نیو چارو پر وزیر- ښاغلی رنګین دادېر سپنتا ده . مخکې تر دې چې ښاغلی سپنتا دافغانستان دبهرنیو چارو وزیر شي هغه ځان دافغانستان په ټولو خلکو پورې تاړه؛ سکتاریستی ډلې او تنظیمونه یې ګلې ګڼلې، او افغان ولس ته یې دهغوی دهیلو د را ژوندۍ کولو زېری ورکاو.

خوداچې دښاغلي اوباما انتخابیدلو په نړی کې دديموکراسی دله سره غوړېدلو هیلې را ژوندۍ کړې او په داسې حال کې چې د نړی خلک او دهغوی استازي له ښاغلي اوباما سره، ددغو هیلو دپوره کولو په موخه، خپلې نظریې شریکوی؛ ګټور وړاندیزونه او اپیلونه ورته کوي، ښاغلي سپنتا زمونږ دخلکو دغوښتنو او زمونږ دټولنې د واقعیتونو پرخلاف ددې پرځای چې دخپل هېواد دستري ستونځې- د روان جنګ دپای ته رسولو په اړه امریکایانوته، چې له افغانانوسره یوځای په کې ښکېل دي، کومه ښه مشوره وړاندې کړي وای هغه په افغانستان کې له پارسي ژبې او دلړه کیو دحق دغوښتنې بې بنسټه چیغه را پورته کړه چې افغان ضد ګلو د ورځپانو، راډیووګانو، ټلوېژونونو، اوسایټونو په مرسته لا پخوا دافغان ولس ددرغله کولو په موخه راپورته کړې اوپه پرله پسې ډول یې تکراروي.

د ښاغلی سپنتا دغه بې بنسټه چیغه له افغان ضد، نوکروګلو سره دده د همغږۍ یوه ښه ښېلګه ګڼل کېدای سي. که نه د افغانستان په ډېرو ولایتونوکې لاڅه چې دهېواد په پلازمېنه –کابل کې پښتانه په خپله ژبه دزده کړې له حق څخه بې برخې دي، پوهنتونونه په پارسي دي، په دولتي ادارو کې هر څه په پارسي دي؛ ان تر دې چې کرزي د ایران، تاجکستان، او افغانستان د جمهور رئیسانو په یوه ګډه غونډه کې دځنګله د قانون پربنسټ افغانستان د نړۍ له دریو پارسي ژبو هېوادونوڅخه یو و باله.
لنډه دا چې افغانستان ګله یانو پر ځنګل بدل کړی او تر هغې چې ګله یان حاکمان وی نه خلک سره یوموټی کېدای سي، او نه به په هېوادکې سوله او عدالت راسي.

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de